ISSUE 75 APRIL 2024

خانه نو نوی کور

# New Home

خانه نو، سرویس خبری برای اهل افغانستان در امریکا است

نوی کور، په امریکا کې د افغانانو لپاره یو خبري خدمت دی

**A news service for Afghans in America**

NEW HOME is brought to you by Sahan Journal, Afghan Cultural Society,and Center for Victims of Torture.
It's reported and written by Hussain Ali Haidari.




Photo Credit: AP

# د ښځو پر ضد د طالبانو فرمانونه: دبشري حقوق نقض او د ښځو انزوا حالت

- د ۲۰۲۲ په فبروري کې، د نارینه او ښځینه تعلیمي ټولګي جلا شوي
- د ۲۰۲۲ په مارچ کې، نجونې ښوونځي ته له تلو منع شوې وې
- د سپټامبر په ۲۰۲۱ کې، ښځې د کار کولو څخه منع شوي

Illustrator Credit: CVT

**د ښځو پر ضد د طالبانو فرمانونه: دبشري حقوق نقض او د ښځو انزوا حالت**

واک ته د طالبانو له راتګ سره په افغانستان کې ښځې د طالبانو د ظالمانه او تبعیضي پریکړو اصلي قربانیدي. طالبانو د واک ته د رسېدو په لومړیو ورځو کې د ښځو پر اقتصادي، ټولنیزو او سیاسي فعالیتونو سخت بندیزونه ولګول. دوی په بېلابېلو پړاوونو او د بېلابېلو فرمانونو له لارې د ښځو حقونه تر پښو لاندې کړل. د ۲۰۲۲ کال د مې په ۲۱مه طالبانو د افغان تصویري رسنیو له ښځینه کارکوونکو څخه وغوښتل چې په تلویزیون کې د خپرونو پر مهال خپل مخونه پټ کړي. په همدې ډول، د ۲۰۲۲ کال د مې په ۷مه طالبانو له ښځو وغوښتل چې په عامه ځایونو کې چادرۍ واغوندي. په افغانستان کې له دوو لسیزو وروسته د ښځو لپاره د بورقې اغوستل اجباري شول. طالبانو ښځو ته خبرداری ورکړی، چې که دغه حکم عملي نه کړي،دهغوېې نارینه به تر درېیو ورځو پورې په بند محکوم کړي. د ۲۰۲۲ کال د می په ۳مه طالبانو په هرات ولایت کې د موټر چلولو د روزنې مرکزونو ته امر وکړی چې ښځو ته د موټر چلولو روزنه ورنکړي. د طالبانو له تبعیضي پریکړو وروسته د ۲۰۲۲ کال مارچ په ۲۲ د منځنې او عالي ښوونځیو انجونې ښوونځي ته له تلو منع شوي. طالبان وايي، د انجونو د ښوونځیو د پرانیستلو لپاره جامع او اسلامي پلان ته اړتیا ده. په افغانستان کې ښوونځیو د نجونو د بې برخې کولو په اړه له داخلي او نړیوالو اعتراضونو سره مخ شول، خو طالبانو دغه ټول اعتراضونه له پامه غورځولي او اوس هم په افغانستان کې انجونې ښوونځیو ته له تګ څخه منع شوي دي. د ۲۰۲۲ کال د فبروری په ۳ مه طالبانو له دولتي او خصوصي پوهنتونونو وغوښتل چې د هلکانو او نجونو ټولګي جلا کړي. د طالبانو دغې پرېکړې خصوصي پوهنتونونه له سختو مالي ستونزو سره مخ کړل. خصوصي پوهنتونونه مکلف شول چې د نجونو لپاره جلا صنفونه په پام کې ونیسي. په ځینو مواردو کې طالبانو له پوهنتونونو غوښتي چې د ښځینه محصلینو استادان باید ښځې وي نه نارینه.

**ادامه ...**

د پوهنتونونو لپاره چې ډېری یې په ښه مالي حالت کې نه دي، د دې پرېکړې عملي کول اسانه کار نه و، خو طالبانو پوهنتونونه اړ کړل چې دغه پرېکړه عملي کړي. طالبان د خپلې دوه کلنې واکمنۍ په موده کې پر ښځو له یادو محدودیتونو وروسته هم لاس پر سر شوي نه دي. ۲۰۲۱ کال د سپټمبر په ۱۹مه طالبانو له ښځینه کارکوونکو وغوښتل چې په کور کې پاتې شي او کار ته نه راځي. د طالبانو له دې پرېکړې وروسته د دولتي ادارو ډېری کارکوونکي له کاره بې برخې شوي. د اشرف غني د حکومت د احصایې او معلوماتو د ملي اداري د شمېرو له مخې، د ملکي خدمتونو ۲۴ سلنه کارکوونکي ښځې وې. د دې اداري په درې میاشتني راپور کې چې د ۲۰۲۰ کال د مارچ په اتمه خپور شو، ښیي چې د دولتي کارکوونکو شمېر ۴۱۲ زره تنو ته رسېدلی چې له دې ډلې ۱۰۱۲۱۶ یې ښځې دي. د دې شمېرو له مخې تر ټولو زیاتې ښځې د ښځو چارو په وزارت او تر ټولو کمې یې په خپلواکو کمېسیونونو کې په دندو ګمارل شوي دي. که څه هم د ښځو چارو په وزارت کې زیاتره ښځو کار کاوه، خو طالبانو له واک ته رسېدو یوه میاشت وروسته دغه وزارت منحل کړی. طالبانو دغه وزارت د آمر باالمعروف اونهی المنکر باندي بدل کړی. د تېر وزارت په پرتله چې د ښځو د حقونو د دفاع لپاره یې کار کړی، دغه وزارت د ښځو پر وړاندې تر ټولو تبعیضي پرېکړې عملي کړي دي. د ۲۰۲۱ کال د سپټمبر په ۸ مه طالبانو د ښځو ورزش غیر ضروري وګاڼه. د دې پریکړې پر بنسټ، ښځې په عملي توګه د ورزش کولو څخه منع شوي. طالبانو له دې پرېکړو سره ښځې د ژوند له بېلابېلو برخو څخه ګوښه شوي دي. طالبانو د ۲۰۲۱ کال د سپټمبر په ۷ مه خپله کابینه اعلان کړه. د دې ډلې په کابینه کې حتی یوه ښځه هم نشته. د جمهوریت پر مهال په کابینه کې لږ تر لږه څلور ښځینه وزیرانې وې. د طالبانو دغه پرېکړې چې له بشري حقونو ښکاره سرغړونه ده، په افغانستان کې د یو شمېر ښځو له پراخو اعتراضونو سره مخ شوه. په افغانستان کې د ښځو له حقونو څخه د ملاتړ یو شمېر خپلواکو سازمانونو غړي سړکونو ته راووتل او له نړیوالو سازمانونو یې وغوښتل چې د طالبانو د دې غیر انساني پرېکړو پر وړاندې ودرېږي. په افغانستان کې د ښځو له پراخو اعتراضونو سره سره، کومې نړیوالې اداري په دې برخه کې اغېزمن کار نه دی کړی، خو طالب ډلې یو شمېر مظاهره کوونکي ښځې ونیولې او بندیانې کړي چې یو شمېر فعالې ښځې اوس هم د طالبانو په زندانونو کې دي.

**خپل پوښتنې او نظر له موږ شریکې کړئ**

**651-504-8170**